دافغانستان اسلامي جمهوریت
دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

## فوق العاده گنه

- دافغاني سرې میاشتې دټولنې (جمعیت هلال احمرافغانی) دچارو دتنظیم قانون
- دتورنو،محکومینو داسترداد اوعدلي همکارۍ دقانون په څلورمه ماده کې د(۲)فقرې ایزاد
- دعامه اوخصوصي مشارکت قانون

- قانون تنظیم امورجمعیت هلال احمرافغانی (جمعیت افغانی سره میاشت)
- ایزادفقرهٔ(۲) درمادهٔ چهارم قانون استرداد متهمین، محکومین وهمکاری عدلی
- قانون مشارکت عامه وخصوصی

دخپرېدونېټه: د۱۳۹۵هـ.ش کال دتلې دمیاشتې (۱۷)
پرله پسې نمبر:( ۱۲۲۸)

تاریخ نشر: (۱۷) میزان سال ۱۳۹۵ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۲۲۸)

د امتیــاز خاوند: دعدلیــې وزارت
مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"
٠٧٠٠٥٨٧٤٥٧
د دفتر تیلفون: ٠٢٠٢٣١٤٢٩٨
مرستیال: نورعلم ٠٧٠٠١٤٧١٧٨
مهتمــــم: محمد جان ٠٧٨٣٣٠٦٩٨٢
وب سایت: www.moj.gov.af

قیمت: (١٥/٨٤)افغانی
تیراژ چاپ: (٣٠٠٠)جلد
تعداد صفحات به شمول پشتی: (٦٦)صفحه
مطبعه: صــــــدف
آدرس: وزارت عــدلیه، ریاست نشرات و ارتباطعــامه، سرک (١٥) وزیرمحمداکبرخان (شیرپور) کابل

## د افغاني سرې میاشتې د ټولنې د قانون په اړه د ملي شورې د دواړو مجلسینو د ګډ پلاوي د فیصلې د توشیح په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۷۷)

نېټه: ۱۰/ ۵/ ۱۳۹۵

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د (۱٦) فقرې او د (۹۴) مادې د (۱) فقرې د حکمونو له مخې د افغاني سرې میاشتې د ټولنې د چارو د تنظیم د قانون په هکله د ملي شورې د دواړو مجلسینو د ګډ پلاوي د ۸/ ۴/ ۱۳۹۵ نېټې (۲۰۱) ګڼه فیصله، په (۴) فصلونو، (۱۷) مادو او (پنځو) ضمیموکې توشیح کوم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان د ملي شورې د دواړو

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح فیصلهٔ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی پیرامون قانون تنظیم امور جمعیت هلال احمر افغانی

شماره: (۷۷)

تاریخ: ۱۳۹۵/۵/۱۰

**مادهٔ اول:**

به تأسی از احکام فقرهٔ (۱٦) مادهٔ (٦۴) و فقرهٔ (۱) مادهٔ (۹۴) قانون اساسی افغانستان، فیصلهٔ شماره (۲۰۱) مؤرخ ۱۳۹۵/۴/۸ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی را در مورد قانون تنظیم امور جمعیت هلال احمر افغانی طی (۴) فصل، (۱۷) ماده و (پنج) ضمیمه، توشیح می دارم.

**مادهٔ دوم:**

این فرمان همراه با فیصلهٔ هیئت مختلط

مجلسينو د ګډ پلاوي له فيصـــلې او د نومورې قانون له متن سره يوځاى دې په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

مجلسين شوراى ملی و مـــتن قـــانون متـــذکره درجريـــدۀ رســـمی نشـــر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهورى اسلامى افغانستان**

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**د افغاني سرې مياشتې د ټولنې**

**(هلال احمر افغانی) د چارو د**

**تنظيم قانون**

**فيصله**

**پرله پسې ګڼه: (۲۰۱)**

**د فيصلې نېټه: ۸/ ۴/ ۱۳۹۵**

**د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې د حکم سره سم، د ملي شوري د دواړو جرګو د دريو، دريو غړو څخه جوړ شوي ګډ هيئت د افغاني سرې مياشتې د ټولنې (هلال احمر افغاني) د چارو د تنظيم قانون په (۴) فصلونو، (۱۷) مادو او (۵) ضميمو کې د ۸/ ۴/ ۱۳۹۵ نېټې د سه شنبې ورځې په غونډه کې فيصله کړ.**

**د ګډ هيئت رئيس**

**عبيدالله رامين**

**د ګډ هيئت مرستيال**

**طيبه زاهدي**

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**فيصله**

**قانون تنظيم امور**

**جمعيت هلال**

**احمر افغانی**

**شماره مسلسل: (۲۰۱)**

**تاريخ فيصله: ۱۳۹۵/۴/۸**

**به تأسی از حکم مادهٔ صدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به ترکيب سه، سه نفر از اعضای هر جرگه قانون تنظيم امور جمعيت هلال احمر افغانی را در (۴) فصل و(۱۷) ماده و(۵) ضميمه در جلسهٔ روز سه شنبه مؤرخ ۱۳۹۵/۴/۸فيصله نمود.**

**رئيس هيئت مختلط**

**عبيدالله رامين**

**معاون هيئت مختلط**

**طيبه زاهدی**

## فهرست مندرجات

## قانون تنظیم امور جمعیت هلال احمر افغانی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۶ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۶ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۷ |
| مادۀ چهارم: | ساحۀ فعالیت | ۹ |
| مادۀ پنجم: | اختصارنام | ۹ |


### فصل دوم

### تشکیل و وظایف جمعیت هلال احمر افغانی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ ششم: | تشکیل | ۹ |
| مادۀ هفتم: | وظایف | ۱۰ |
| مادۀ هشتم: | منابع تمویل | ۱۱ |
| مادۀ نهم: | مصرف شفاف عواید | ۱۳ |
| مادۀ دهم: | حقوق و امتیازات | ۱۳ |
| مادۀ یازدهم: | امور تدارکات | ۱۴ |
| مادۀ دوازدهم: | تقرر و استخدام کارکنان | ۱۴ |

## فصل سوم

## استفاده از نشان ها و علایم احمر افغانی

مادهٔ سیزدهم: استفاده از نشان........................................ ۱۵
مادهٔ چهاردهم: استفاده تشخیصی، محافظتی و حمایوی از نشان.......... ۱۶
مادهٔ پانزدهم: استفاده سوء............................................ ۱۹

## فصل چهارم

## احکام نهایی

مادهٔ شانزدهم: وضع لوایح و طرزالعمل ها................................ ۱۹
مادهٔ هفدهم: انفاذ...................................................... ۲۰

## د افغاني سرې میاشتې د ټولنې (جمعیت هلال احمرافغانی) دچارو د تنظیم قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان داساسي قانون داوومې مادې دحکم په رعایتولو سره، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددی قانون موخې عبارت دي له :

۱- د افغاني سرې میاشتې د ټولنې (جمعیت هلال احمرافغانی) په تشکیل اودندو پورې د اړوندو چارو تنظیمول.

۲- د سرې میاشتې، سره صلیب له نښانونو اوعلایمو څخه په ګټې اخیستنې پورې داړوندو چارو تنظیمول او له هغو څخه ملاتړ.

## قانون تنظیم امور جمعیت هلال احمرافغانی (جمعیت افغانی سره میاشت)

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون با رعایت حکم مادۀ هفتم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- تنظیم امور مربوط به تشکیل ووظایف جمعیت هلال احمرافغانی (جمعیت افغانی سره میاشت).

۲- تنظیم امور مربوط به استفاده از نشان ها و علایم هلال احمر، صلیب سرخ وحمایت از آن ها.

## اصطلاحګاني

**درېيمه ماده:**

راتلونکې اصطلاحګانې پدې قانون کې لاندې مفاهيم افاده کوي:

۱- د افغاني سرې مياشتې ټولنه (جمعيت هلال احمرافغاني):په هېوادکې ملي خيريه خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې دافغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تر مستقيم ملاتړ لاندې په بشري چاروکې ددولت مرسته کوونکی ونډه ترسره کوي.

۲- دسره صليب بين المللي کميټه (ICRC):دبشردوستانه مرستې بين المللي مؤسسه ده چې د ژنيوا دکنوانسيونونو او د هغو دالحاقيه پروتوکولونو سره سم، فعاليت کوي.

۳- بين المللي فدراسيون: د سره صليب او سرې مياشتې دملي ټولنو هغه اتحاديه چې په بين المللي سطح دسره صليب اوسرو مياشتو د بين المللي نهضت داساسنامې سره سم، د بې پرې، خپلواک اوغير جانبداره

## اصطلاحات

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱-جمعیت هلال احمرافغانی (جمعیت افغانی سره میاشت) :نهاد ملی خیریۀ مستقل و بی طرف در کشور است که تحت حمایت مستقیم رئیس جمهوری اسلامی افغانستان، نقش معاونت کنندۀ دولت در امور بشری را، ایفا می نماید.

۲- کمیتۀ بین المللی صلیب سرخ (ICRC): موسسۀ بین المللی امداد بشردوستانه است که مطابق به کنوانسیون های ژنیوا و پروتوکول های الحاقیۀ آن، فعالیت می کند.

۳- فدراسیون بین المللی: اتحادیه جمعیت های ملی صلیب سرخ وهلال احمر که مطابق اساسنامۀ نهضت بین المللی صلیب سرخ وهلال احمرها به حیث سازمان بی طرف، مستقل وغیر جانبدار در سطح بین المللی ایجاد

سازمان په توگه رامنځته او دسرۀ صليب اوسرو مياشتو دټولنوفعاليتونه تنظيموي.

۴- بشردوستانه مرسته:د وسله والو شخړو اوطبيعي پېښو داغېزمنو لپاره د خوراکي توکو، جامو، هستوګن ځايونو، روغتيايي خدمتونو، ترانسپورتي خدمتونو او نورو آسانتياوو برابرول دي.

۵- د ژنيوا د ۱۹۴۹ کنوانسيونونه: هغه بين المللي ميثاقونه چې دبشر دوستانه مرستې په منظور، دملي ټولنو، سرۀ صليب اوسرې مياشتې په واسطه دطبيعي پېښو يا وسله والو شخړو د زيانمنو شوو لپاره دملګرو ملتونو له لوري تصويب شوي دي.

٦- د ژنيوا پروتوکولونه: هغه حقوقي سندونه چې د ۱۹۷۷ ميلادي کال د جون په ۸ نېټه د (۱-۲) تر عنوانونو لاندې دجګړې په وخت کې دملکي افرادو اود وسله والوشخړو د ټپيانو، ناروغانو اووژل شوو د ملاتړ اود ملګرو ملتونو له خوا دهلال احمر له

وفعاليت های جمعيت های صليب سرخ و هلال احمرها را تنظيم می کند.

۴- امداد بشردوستانه : فراهم نمودن مواد خوراکی، لباس، سرپناه، خدمات صحی، خدمات ترانسپورتی و ساير سهولت ها برای متأثرين منازعات مسلحانه و حوادث طبيعی می باشد.

۵- کنوانسيون های ۱۹۴۹ژنيوا: ميثاق های بين المللی که به منظور امداد بشردوستانه توسط جمعيت های ملی وصليب سرخ وهلال احمر برای آسيب ديدگان حوادث طبيعی يا منازعات مسلحانه از جانب ملل متحد به تصويب رسيده است.

٦- پروتوکول های ژنيوا: اسناد حقوقی که تحت عناوين (۱-۲) مؤرخ ۸ جون ۱۹۷۷ ميلادی به منظورحمايت از افراد ملکی دراثنای جنگ، مجروحين، مريضان وکشته شده گان منازعات مسلحانه و استفاده از نشان هلال احمروصليب سرخ از

نښان څخه دګټې اخيستنې په منظـــور، دملګرو ملتونو لخوا تصويب شوي دي.

دفعاليت ساحه

څلورمه ماده:

دافغـــاني ســـرې مياشـــتې د ټـــولنې (جمعيت هلال احمرافغانی) مرکـــزي دفتر دکابل په ښار کې دی، نمايندګۍ يې په نورو ولايتونوکې رامنځته کېدای شي.

لنډنوم

پنځمه ماده:

دافغـــاني ســـرې مياشـــتې ټولنـــه (جمعيت هلال احمرافغانی) پدې قانون کې دافغاني سرې مياشتې دټولنې په نامۀ يادېږي.

## دوه يم فصل

## د افغاني سرې مياشتې د ټولنې تشکيل او دندې

تشکيل

شپږمه ماده:

(۱)دافغاني سرې مياشتې ټولنه دلاندې

طرف ملل متحد به تصـــويب رســـيده است.

ساحۀ فعاليت

مادۀ چهارم:

دفتر مـــرکـــزی جمعيـــت هـــــلال احمرافغانـــی (جمعيت افغانـــــی سره مياشـــــت) در شـــــهرکابل بـــــوده، نمايندگی های آن در ســـاير ولايـــات ايجاد شده می تواند.

اختصارنام

مادۀ پنجم:

جمعيـــــت هـــــــلال احمرافغـــــانی (جمعيت افغانی سره مياشت) در ايـــن قانون به نام جمعيت هلال احمرافغانی ياد می گردد.

## فصل دوم

## تشکيل ووظايف جمعيت هلال احمرافغانی

تشکيل

مادۀ ششم:

(۱) جمعيت هلال احمرافغانی دارای

تشکيل لرونکې ده:
۱- مرکزي اداره.
۲- ولايتي ادارې.
۳- دځوانانو او رضاکارانو اداره.
(۲) دافغاني سرې مياشتې د ټولنې د تشکيل جزئيات په اړونده اساسنامه کې تنظيمېږي.

## دندې

اوومه ماده:
(۱) د افغاني سرې مياشتې ټولنه د لاندې عمده دندو لرونکې ده:
۱- د نژادي، ديني، قومي، مذهبي، عقيدتي، رنګ، موقف، شتمنی، جنس، ژبې اوسياسي عقايدو د تعلقاتو له په پام کې نيولو پرته له طبيعي اوغيرطبيعي پېښو څخه دراپيدا شوو بشري دردونو او مصايبو په کمولوکې له زيانمنوسره مرسته اوهمکاري.
۲- د ژنيوا د۱۹۴۹ کنوانسيونونو او د هغو د الحاقيه پروتوکولونوسره سم، دجګړې له ټپيانوڅخه ملاتړ.
۳- اړمنو ته د جنسي اونقدي مرستو

تشکيل ذيل می باشد:
۱- ادارۀ مرکزی.
۲- ادارات ولايتی.
۳- ادارۀ جوانان ورضاکاران.
(۲) جزئيات تشکيل جمعيت هلال احمرافغانی در اساسنامۀ مربوط تنظيم می گردد.

## وظايف

مادۀ هفتم:
(۱) جمعيت هلال احمرافغانی دارای وظايف عمدۀ ذيل می باشد:
۱- مساعدت وهمکاری درکاهش آلام ومصايب بشری ناشی ازحوادث طبيعی وغير طبيعی آسيب ديده گان بدون در نظرداشت تعلقات نژادی، دينی، قومی، مذهبی، عقيدتی، رنگ، موقف، دارايی، جنس، زبان وعقايد سياسی.
۲- حمايت از مجروحين جنگ مطابق کنوانسيون های ۱۹۴۹ ژينوا و پروتوکول های الحاقی آن.
۳- توزيع مساعدت های نقدی و

وېشل.

۴- داشخاصو او ملي اوبين المللي خيريه مؤسسو د مرستو او همکارۍ جلبول.

۵- دبشر دوستانه دندو دترسره کولو په مقصد دجگړې سيموته د استازو لېږل.

۶- بين المللي فدراسيون اود سره صليب بين المللي کميټې(ICRC) ته د طبيعي اوغير طبيعي پېښو د رپوټ وړاندې کول.

۷- په هېوادکې دننه اود امکان په صورت کې له هېواده بهرله طبيعي اوغيرطبيعي پېښو څخه راپيدا شوو بشري اړتياوو ته د مالي بسپنوتنظيمول اومرسته.

(۲) دافغاني سرې مياشتې د ټولنې نورې دندې په اړونده اساسنامه کې تنظيمېږي.

## دتمويل سرچينې

**اتمه ماده:**

د افغاني سرې مياشتې ټولنه له لاندې

جنسی به نیازمندان.

۴-جلب همکاری و معاونت اشخاص و مؤسسات ملی وبین المللی خیریه.

۵- اعزام نمایندگان در مناطق جنگی به مقصد انجام وظایف بشر دوستانه .

۶- ارایه گزارش حوادث طبیعی و غیر طبیعی به فدراسیون بین المللی وکمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ (ICRC).

۷- کمک وتنظیم مساعدت مالی به نیازمندی های بشری ناشی ازحوادث طبیعی وغیر طبیعی در داخل و در صورت امکان در خارج کشور.

(۲) سایر وظایف جمعیت هلال احمرافغانی در اساسنامهٔ مربوط تنظیم می گردد.

## منابع تمویل

**مادهٔ هشتم:**

جمعیت هلال احمر افغانی از منابع ذیل

سرچینوڅخه تمویلېږي:

۱- له اړوندو منقولـــو اوغیرمنقولـــو شتمنیوڅخه لاسته راغلي عواید.

۲- د اړوندې اساسنامې د حکمونـــو سره سم، دغړوحق العضویت.

۳- دکورنیـــو اوبهرنیـــو خیررســـانو اشخاصونقدي اوجنسي مرستې.

۴- دولتي مرستې.

۵- د بـــانکونو او انتفـــاعي تصـــدیو مرسته.

٦- د معمول عرف سره سم د ملـــي سوداګرو مرسته.

۷- دحاجیانو مرسته.

۸- دافغاني سرې میاشتې تولنه دخپل دضرورت اړوند دعایداتو دزیـــاتوالي لپاره مقرره او طرزالعمل ترتیبوي.

۹- مفـــادي حسابونـــه او د اړوندو پانګو ګټې.

۱۰- په ځانګړې اوونۍ کې د ګرځنده او ثابتو صندوقونو په واسطه راټـــولې شوې مرستې.

تمویل می گردد:

۱- عواید ناشی از دارایی های منقول و غیر منقول مربوط.

۲-حق العضویت اعضاء مطابق احکام اساسنامۀ مربوط.

۳-کمک های نقدی وجنسی اشخاص خیر رسان داخلی وخارجی.

۴- اعانه های دولتی.

۵- اعـــانه بانـــک ها و تصدی های انتفاعی.

٦-اعانه تجـــار ملـــی طبـــق عـــرف معمول.

۷- اعانه حجاج.

۸- جمعیت هلال احمرافغانی به خاطر ازدیاد عواید مورد ضرورت خـــویش مقرره وطرزالعمل را ترتیب می نماید.

۹- حســـابات مفـــادی و مفـــاد ســـرمایه های مربوط.

۱۰- اعانه های جمـــع آوری شـــده توسط صندوق های ســـیار در هفتـــه مخصوص و صندوق های ثابت.

## دعوایدو شفاف لګښت

**نهمه ماده:**

(۱) دافغاني سرې میاشتې د ټولنې عواید په شفاف ډول په مصرف رسېږي اومسئولین د قانون له حکمونو سره سم، د خلکو اوکورني او بهرني پلټونکي په وړاندې ځواب ویونکي دي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي پلټونکي دپلټنې پایله د مالي کال له پایته رسېدو وروسته دټولیزو رسنیو له لارې خپرېږي.

## حقوق اوامتیازونه

**لسمه ماده:**

دافغاني سرې میاشتې ټولنه د خیرغوښتونکو اوبشري فعالیتونو د ترسره کولولپاره د بین المللي منل شوو اصولوپه رعایتولو سره له لاندې حقوقو او امتیازونو څخه برخمنه ده:

۱- دمالیاتو،ګمرکي محصول، د اړوندو نقلیه وسایطو دترافیکي محصول، د دولتي بانکونو د کمېشنونو، له لویو لارو څخه د

## مصرف شفاف عواید

**مادۀ نهم:**

(۱) عواید جمعیت هلال احمرافغانی طور شفاف به مصرف رسیده و مسئولین در برابر مردم و بازرسان داخلی وخارجی مطابق احکام قانون، جوابده می باشند.

(۲) نتیجۀ بازرسی باز رسان مندرج فقرۀ (۱) این ماده بعد از ختم سال مالی از طریق رسانه های همگانی نشر می گردد.

## حقوق وامتیازات

**مادۀ دهم:**

جمعیت هلال احمرافغانی جهت انجام فعالیت های خیرخواهانه و بشری با رعایت اصول قبول شده جهانی ازحقوق و امتیازات ذیل برخوردار می باشد:

۱- معافیت از پرداخت مالیات، محصول گمرکی، محصول ترافیکی وسایط نقلیۀ مربوط، کمیشن های بانک های دولتی،

حـــق العبـــور دمحصول او دقانون د حکمونو سره سم د نورو محصولاتوله ورکړې څخه معافیت.
۲- دخیریه خدمتونو د عرضه کولو په وړاندې د خدمت دمالیې له ورکـــړې څخه معافیت.
۳- ښاروالۍ ته دصفایي دمحصول له ورکړې څخه معافیت.

## د تدارکاتو چارې

**یوولسمه ماده:**

د افغاني سرې میاشتې ټولنه کولای شي خپلې تدارکاتي چارې د سره صـــلیب دبـــین المللـــي کمیټـــې د تـــدارکاتو داصولوسره سم، تدارک کړي.

## دکارکوونکو تقرر او استخدام

**دوولسمه ماده:**

(۱) دافغاني سرې میاشتې د ټـــولنې د کارکوونکو تقرر، استخدام اونـــورې ذاتي چارې داړوندو لایحو او کړنلارو سره سم، تنظیمېږي.
(۲) د تقاعد سهمیه دافغـــاني ســـرې میاشتې د ټولنې دکارکوونکوله معـــاش

محصول حق العبور از شاهراه ها وسایر محصـــــولات مطـــــابق احکـــــام قانون.
۲- معافیـــــت از پرداخـــــت مالیـــهٔ خدمت در برابـــر عرضـــهٔ خـــدمات خیریه.
۳- معافیت از پرداخـــت محصـــول صفایی به شاروالی.

## امور تدارکات

**مادهٔ یازدهم:**

جمعیت هلال احمرافغانی می توانـــد، امـــور تدارکاتـــی خـــویش را مطابق اصول تدارکاتی کمیتهٔ بـــین المللـــی صلیب سرخ، تدارک نماید.

## تقرر واستخدام کارکنان

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) تقـــرر، استخدام وسایر امور ذاتی کارکنان جمعیت هلال احمرافغـــانی، طبق لوایح وطرزالعمل هـــای مربـــوط تنظیم می گردد.
(۲) سهمیهٔ تقاعد از معاش کارکنـــان جمعیـــت هـــــلال احمـــر افغـــانی،

څخه دملکي خدمتونو د بستونو مطابق وضع، دتقاعد خزينې ته لېږدول کېږي او د اړوندې مقررې له حکمونوســره سم، ورکول کېږي.

(۳) دملکي خدمتونومامورين ددنـدې دتصدۍ په وخت کې نشــي کــولای دافغاني سرې مياشتې په ټولنــه کــې دکارکوونکي په توګه دنــده ترســره کړي.

## دريیم فصل

## د سرې مياشتې او د سره صليب له نښانونو او علايمو څخه ګټه اخيستل

### له نښان څخه ګټه اخيستل

**ديارلسمه ماده:**

د دې قانون په (۱) ګڼه ضميمه کې د سرې مياشتې له درج شوي نښان څخه يوازې دافغاني سرې مياشتې دټــولنې کارکوونکي، د هغوی اړوندو نقليــه وسايط، دسره صــليب بــين المللــي کميټه(ICRC) اوبين المللي فدراسيون

مطابق بست هــای خــدمات ملکــی وضع به خزينۀ تقاعد انتقال و مطــابق احکــام مقــررۀ مربــوط، پرداختــه می شود.

(۳) مامورين خدمات ملکــی حــين تصدی وظيفه نمی تواننــد منحيــث کارمنـــــد جمعيـــــت هـــــلال احمرافغـــــانی ايفـــــای وظيفـــــه نمايد.

## فصل سوم

## استفاده از نشان ها و علايم هلال احمر و صليب سرخ

### استفاده از نشان

**مادۀ سيزدهم:**

نشــــان هـــــلال احمــــر منـــــدرج ضميمۀ شمارۀ (۱) اين قانون، صــرف توسط کارکنــان جمعيــت هـــــلال احمرافغانی، وسايط نقليــۀ مربــوط آن ها، کميتۀ بــين المللــی صــليب ســــــرخ(ICRC) و فدراســـــيون

ګټه اخيستی شي.

**له نښان څخه تشخيصي، محافظتي اوحمايوي ګټه اخيستل**

**څوارلسمه ماده:**

(۱) دافغاني سرې مياشتې ټولنه کولای شي ددې قانون په (۲) ګڼه ضميمه کې له درج شوي نښان څخه د تشخيصي علامت په توګه، دکارکوونکو، غـړو، رضاکارانــو، اجناســو، مرکزونو او اړوندو نقليه وسايطو دپېژندنې لپاره ګټه واخلي.

(۲) ددې قانون په (۳) ګڼه ضميمه کې درج شوی دافغاني ســرې مياشــتې د ټولنې او سره صليب دبين المللي کميټې (ICRC) نښان د وسلوالو شخړو پــه وخت کې په لويه اندازه د افغاني سرې مياشتې ټــولنې او د ســرۀ صــليب د بين المللــي کميټــې دکــارکوونکو، روغتيايي واحدونو او د نقليه وسايطو د تشخيصي، محافظوي اوحمايوي نښې په توګه ترګټې اخيستنې لاندې نيــول کېږي.

بين المللی مورد استفاده قرار می گیرد.

**استفاده تشخیصی، محــافظتی و حمايوی از نشان**

**مادۀ چهاردهم:**

(۱)جمعيت هلال احمر افغانی می تواند از نشان مندرج ضميمۀ شماره (۲) اين قانون به عنوان علامــت تشخيصـــی، جهت شناسايی کارکنـــان، اعضـــاء، رضاکاران، اجناس، مراکز و وســايط نقليـــــۀ مربـــــوط اســــــتفاده نمايند.

(۲)نشان جمعيت هلال احمرافغانی و کميتۀ بين المللـــی صـــليب ســـرخ (ICRC) مندرج ضميمۀ شـــمارۀ(۳) اين قانون به اندازه بزرگ در جريـــان منازعه مسلحانه به عنـــوان علامـــت تشخيصـــــی، محـــافظتی وحمـــايوی کارکنـــان، واحـــد هـــای صـــحی و وسايط نقليۀ جمعيت هلال احمرافغانی و کميتۀ بين المللی صـــليب ســـرخ (ICRC)، مـــورد اســـتفاده قـــرار می گيرد.

(۳) دافغاني سرې میاشتې د ټولنې او د سرهٔ صلیب بین المللي کمیټې (ICRC) په کوچنۍ اندازه نښان دافغاني سرې میاشتې دټولنې اوسرهٔ صلیب د بین المللي کمیټې (ICRC) د اړوندو افرادو یا شیانو د پېژندنې لپاره ترګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

(۴) د ملي دفاع اوکورنیو چارو د وزارتونو او دملي امنیت دلوی ریاست روغتیایي واحدونه کولای شي د وسلوالې شخړې یا د سولې په بهیر کې دخپلو واحدونو،کارکوونکو او نقلیه صحي ځمکنیو او هوایي وسایطو لپاره د دې قانون په (۴) ګڼه ضمیمه کې د سرې میاشتې ټولنې او سره صلیب له درج شوي نښان څخه ګټه واخلي.

(۵) ددې مادې په (۴) فقره کې د درج شوو واحدونو روغتیایي کار کوونکي کولای شي د اړوندې ادارې دهویت دکارت پر لرلو برسېره د سرې میاشتې اوسرهٔ صلیب له پېژندګلویز نښان څخه دخپل مټ یاسینې پر مخ هم

(۳)نشان جمعیت هلال احمرافغانی وکمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ (ICRC) به اندازهٔ کوچک، جهت شناسایی افراد یا اشیای مربوط جمعیت هلال احمرافغانی وکمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ (ICRC)، مورد استفاده قرار می گیرد.

(۴) واحد های صحی وزارت های دفاع ملی و امور داخله و ریاست عمومی امنیت ملی، می توانند از نشان جمعیت هلال احمر افغانی و صلیب سرخ مندرج ضمیمهٔ شماره(۴) این قانون در جریان منازعه مسلحانه یا صلح برای واحد ها، کارکنان و وسایط نقلیهٔ صحی زمینی و هوایی خویش، استفاده نمایند.

(۵) کارکنان صحی واحد های مندرج فقرهٔ (۴) این ماده می توانند، علاوه بر داشتن کارت هویت ادارهٔ مربوط از علامت تشخیصی هلال احمر و صلیب سرخ، روی بازو یا سینهٔ خویش نیز

ګته واخلي.

(٦) د ملکي روغتونونو، دولتي او خصوصي کلينيکونو روغتيايي کارکوونکي او د ټپيانو او ناروغانو دلېږد رالېږد او تداوۍ لپاره توظيف شوي نقليه وسايط کولای شي دوسله والو شخړو په وخت کې د افغاني سرې مياشتې دټولنې د اجازې له اخيستلو څخه وروسته د سرې مياشتې او سرۀ صليب له حمايتي نښان څخه ګټه واخلي.

(٧) د سره صليب بين المللي کميټه (ICRC) او بين المللي فدراسيون د دې قانون په (۵) ګڼه ضميمه کې درج شوی له ځانګړو نښانونو څخه د اړوندو کړنلارو سره سم ګټه اخلي.

(٨) دملي دفاع اوکورنيو چارو وزارتونو او د ملي امنيت د لوی رياست دروغتيايي واحدونوکارکوونکي کولای شي له هرډول تبعيض او تعصب پرته د مصئونيت دتأمين په منظور، دسرې مياشتې پر نښان برسېره د ژنيوا په

استفاده نمايند.

(٦) کارکنان صحی شفاخانه های ملکی، کلينيک های دولتی وخصوصی و وسايط نقلیۀ توظيف شده جهت حمل و نقل و تداوی مجروحين و مريضان می توانند، بعد از کسب اجازۀ جمعيت هلال احمرافغانی در جريان منازعه مسلحانه از نشان حمايتی هلال احمر و صليب سرخ استفاده نمايند.

(٧) کميتۀ بين المللی صليب سرخ (ICRC) و فدراسيون بين المللی از نشان های اختصاصی مندرج ضميمۀ شماره (۵) اين قانون مطابق طرزالعمل های مربوط، استفاده می نمايند.

(٨) کارکنان واحد های صحی وزارت های دفاع ملی و امور داخله ورياست عمومی امنيت ملی می توانند به منظور تأمين مصئونيت، بدون هر نوع تبعيض وتعصب علاوه بر نشان

کنوانسیونونو اولـه هغـو سـره پـه الحاقیه پروتوکولونوکې له نـورو درج شـوو نښـانونوڅخه هـم ګټـه واخلي.

## ناوړه ګټه اخیستل

**پنځلسمه ماده:**

هغه شخص چې د سرې میاشتې یا سرهٔ صلیب له نښان څخه ناوړه ګټه واخلي او له امله یې بل شخص یا اړوند بنسټ ته مادي یا معنوي زیان ورسیږي د قانون د حکمونـو مطـابق، مجـازات کیږي.

## څلورم فصل

## وروستني حکمونه

## دلایحو اوکړنلارو وضع

**شپاړسمه ماده:**

د افغاني سرې میاشتې ټولنـه کـولای شي، د دې قانون د حکمونـو د ښـه تطبیق په منظور، لایحـې اوکـړنلارې وضع کړي.

هلال احمر از سـایر نشـان هـای مندرج کنوانسـیون هـای ژنیـوا و پروتوکول های الحاقی آن نیز استفاده نمایند.

## استفاده سوء

**ماده پانزدهم:**

شخصی که از نشان هـلال احمر و صلیب سرخ استفادهٔ سوء نموده و از اثر آن ضررمادی یا معنوی به شـخص دیگر یا نهاد مربـوط وارد گـردد، مطـابق احکـام قـانون مجـازات می شود.

## فصل چهارم

## احکام نهایی

## وضع لوایح وطرزالعمل ها

**مادهٔ شانزدهم:**

جمعیت هلال احمرافغانی می تواند، به منظور تطبیـق بهتـر احکـام ایـن قانون لوایح وطرزالعمل ها را وضـع نماید.

**انفاذ**

**اوولسمه ماده:**

**دغه قانون په رسمي جریده کې د خپرېدوله نېټې وروسته نافذېږي.**

**انفاذ**

**مادهٔ هفدهم:**

**این قانون از تاریخ نشر در جریدهٔ رسمی نافذ می گردد.**

**ضمیمۀ شماره (۱) قانون تنظیم امور جمعیت هلال احمر افغانی.**

**د افغاني سرې میاشتې د ټولنې د چارو دتنظیم دقانون (۱)ګڼه ضمیمه.**

**ضميمۀ شماره(۲) قانون تنظيم امور جمعيت هلال احمر افغانى.**

**دافغاني سرې مياشتې دټولنې دچارو دتنظيم دقانون(۲) ګڼه ضميمه.**


**ضمیمهٔ شماره (۳) قانون تنظیم امور جمعیت هلال احمرافغانی.**

**دافغاني سرې میاشتې دټولنې دچارو دتنظیم دقانون(۳) ګڼه ضمیمه.**

**ضميمهٔ شماره(۴) قانون تنظيم امور جمعيت هلال احمر افغانی.**

**دافغاني سرې مياشتې دټولنې دچارو دتنظيم دقانون(۴) گڼه ضميمه.**





**ضمیمهٔ شماره(۵) قانون تنظیم امور جمعیت هلال احمرافغانی.**

**دافغاني سرې میاشتې دټولنې دچارو دتنظیم دقانون(۵) گڼه ضمیمه.**

**د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ د قانون په څلورمه ماده کې د (۲) فقرې د ایزاد په اړه د ملي شوري د مجلسینو دمصوبو د توشېح په هکله، دافغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان**

ګڼه: (۱۰۱)

نېټه: ٦/ ٦/ ۱۳۹۵

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (۱٦) جزء او د (۹۴) مادې د (۱) فقرې د حکمونو له مخې، د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ د قانون په څلورمه ماده کې د (۲) فقرې د ایزاد په اړه د ولسي جرګې د ۹/ ۴/ ۱۳۹۵ نېټې (۲۰۴) ګڼه مصوبه او د مشرانو جرګې ۲۷/ ۴/ ۱۳۹۵نېټې (۲۰۵) ګڼه مصوبه، توشېح کوم.

**فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح مصوبات مجلسین شورای ملی پیرامون ایزاد فقرۀ (۲) در مادۀ چهارم قانون استرداد متهمین، محکومین و همکاری عدلی**

شماره: (۱۰۱)

تاریخ: ۱۳۹۵/٦/٦

مادۀ اول:

به تأسی از احکام جزء (۱٦) مادۀ (٦۴) و فقرۀ (۱) مادۀ (۹۴) قانون اساسی افغانستان، مصوبۀ شماره (۲۰۴) مؤرخ ۱۳۹۵/۴/۹ ولسی جرگه و مصوبۀ شماره (۲۰۵) مؤرخ ۱۳۹۵/۴/۲۷ مشرانو جرگه را در مورد ایزاد فقرۀ (۲) در مادۀ چهارم قانون استرداد متهمین، محکومین و همکاری عدلی، توشیح می دارم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ، د ملي شوري د مجلسینو له مصوبو او د یادشوي ایزاد له متن سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس**

**مادۀ دوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ، همراه با مصوبات مجلسین شورای ملی و متن ایزاد متذکره در جریدۀ رسمی نشـــر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت
ملي شوري
ولسي جرګه
دتورنو، محکومینو داسترداد او
عدلي همکارۍ دقانون په څلورمه
ماده کې د(۲) فقرې دایزاد په
هکله، دافغانستان د اسلامي
جمهوريت د جمهور رئیس لخوا
د ۲۴/ ۱۱/ ۱۳۹۴ نېټې د
(۱۵۱)ګڼه تقنیني فرمان
مصوبه

ګڼه: (۲۰۴)
نېټه: ۹/ ۴/ ۱۳۹۵

ولسي جرګې د افغانستان د اساسي قانون د نوي یمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ۹/ ۴/ ۱۳۹۵ نېټې د چهارشنبې ورځې په عمومي غونډه کې د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ د قانون د څلورمې مادې په (۲) فقره کې د ایزاد په هکله، د افغانستان د اسلامي

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
شورای ملی
ولسی جرگه
مصوبهٔ
فرمان تقنینی شماره(۱۵۱)
مؤرخ ۱۳۹۴/۱۱/۲۴ رئیس
جمهوری اسلامی افغانستان در
مورد ایزاد فقرهٔ (۲) در مادهٔ
چهارم قانون استرداد
متهمین، محکومین
و همکاری عدلی

شماره: (۲۰۴)
تاریخ : ۱۳۹۵/۴/۹

ولسی جرگه به تأسی از حکم مادهٔ نودم قانون اساسی افغانستان، در جلسهٔ عمومی روز چهارشنبه مؤرخ ۱۳۹۵/۴/۹ خویش فرمان تقنینی شماره(۱۵۱) مؤرخ ۱۳۹۴/۱۱/۲۴ رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد ایزاد فقرهٔ (۲) در

جمهوريت د جمهور رئيس لخوا د ۲۴/ ۱۱/ ۱۳۹۴ نېټې د (۱۵۱) گڼه تقنيني فرمان، د مجلس د حاضرو غړيو د رأيو په اتفاق تصويب کړه.

**الحاج عبدالرووف ابراهيمي**

**د ولسي جرگې رئيس**

مادۀ چهارم قانون استرداد متهمین، محکومین و همکاری عدلی را با اکثریت آرای حاضردر مجلس تصویب نمود.

**الحاج عبدالرووف ابراهیمی**

**رئیس ولسی جرگه**

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**مشرانو جرگه**

**د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ د قانون د څلورمې مادې د(۲) فقرې د ایزاد په هکله مصوبه**

گڼه: (۲۰۵)

نېټه: ۲۷/ ۴/ ۱۳۹۵

مشرانو جرگې د افغانستان د اساسي قانون د نوي یمې مادې له حکم سره سم، د ۱۳۹۵/۴/۲۷ نېټې د یکشنبې ورځې په عمومي غونډه کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د جمهور رئیس د ۱۳۹۴/۱۱/۲۴ نېټې د (۱۵۱) گڼې تقنیني فرمان د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ د قانون د څلورمې مادې په (۲) فقره کې ایزاد د رأیو په اتفاق تصویب کړ.

**فضل هادي مسلمیار**

**د مشرانو جرگې رئیس**

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**مشرانو جرگه**

**مصوبۀ**

**در مورد ایزاد فقرۀ (۲) در مادۀ چهارم قانون استرداد متهمین، محکومین و همکاری عدلی**

شماره: (۲۰۵)

تاریخ: ۱۳۹۵/۴/۲۷

مشرانو جرگه به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، فرمان تقنینی شماره (۱۵۱) مؤرخ ۱۳۹۴/۱۱/۲۴ رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد ایزاد فقرۀ (۲) در مادۀ چهارم قانون استرداد متهمین، محکومین و همکاری عدلی را در جلسۀ عمومی روز یکشنبه مؤرخ ۱۳۹۵/۴/۲۷خویش به اتفاق آراء تصویب نمود.

**فضل هادی مسلمیار**

**رئیس مشرانو جرگه**

## د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ د قانون په څلورمه ماده کې د (۲) فقرې ایزاد

لومړۍ ماده:

د ۱۳۹۲ کال په (۱۱۰۳) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ د قانون د څلورمې مادې متن دې په نوموړې ماده کې، د (۱) فقرې او (۲) فقرې په توګه په لاندې متن ایزاد شي:

(۲) که چېرې په بهرني دولت کې د افغانستان تبعه یا په افغانستان کې د بهرني دولت تبعه مظنون، تورن یا محبوس وي او په حبس باندې د تورنو او محکومینو د استرداد موافقه لیک د افغانستان او بهرني دولت ترمنځ عقد شوی نه وي، د بهرنیو چارو وزارت کولای شي، د دوه اړخیزو او بالمثل تعاملاتو د مناسباتو پربنسټ، ددې قانون د حکمونو له په پام کې نیولو سره د

## ایزاد فقرهٔ (۲) در مادهٔ چهارم قانون استرداد متهمین، محکومین و همکاری عدلی

مادهٔ اول:

متن مادهٔ چهارم قانون استرداد متهمین، محکومین وهمکاری عدلی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۱۱۰۳) سال ۱۳۹۲ به حیث فقرهٔ (۱) و فقرهٔ (۲) به متن ذیل درمادهٔ مذکور ایزاد گردد:

(۲) هرگاه تبعهٔ افغانستان در دولت خارجی یا تبعهٔ دولت خارجی درافغانستان مظنون، متهم یا محبوس باشد وموافقتنامهٔ استرداد متهمین و محکومین به حبس بین افغانستان ودولت خارجی عقد نگردیده باشد، وزارت امورخارجه می تواند، براساس مناسبات دوجانبه وتعاملات بالمثل به استرداد مظنون، متهم یا تسلیمی محبوس با رعایت

مظنون، تورن یا محبوس په استرداد یا تسلیمۍ لاس پورې کړي.

دوه یمه ماده:

دغه ایزاد د توشیح له نېټې څخه نافذ، او په رسمي جریده کې دې، خپور شي.

احکـــام ایـــن قـــانون مبـــادرت ورزد.

مادهٔ دوم:

این ایزاد ازتـــاریخ توشـــیح نافـــذ، و درجریدهٔ رسمی نشر گردد.

## د عامه او خصوصي مشارکت د قانون د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تقنيني فرمان

ګڼه: (۱۰۳)
نېټه: ۱۱/ ٦/ ۱۳۹۵

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قـانون د (۷۹) مادې د حکم له مخـې، د عامـه او خصوصی مشـارکت قـانون چـې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کا بينې د ۱۰/ ٦/ ۱۳۹۵ نېټې (۱۲) ګڼـې مصوبې پربنسټ پـه (۵) فصـلونو او (۲٦) مادو په دننه کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

د عدلیې وزير او په پارلماني چاروکې د دولت وزير مؤظف دي، دغه فرمان، د ملي شوري لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې هغې شوري ته وړاندې کړي.

## فرمان تقنینی رئیس جمهوری اسلا می افغانستان در مورد توشیح قانون مشارکت عامه و خصوصی

شماره: (۱۰۳)
تاریخ: ۱۳۹۵/٦/۱۱

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم مـادۀ (۷۹) قـانون اساسی افغانستان، قانون مشارکت عامه و خصوصی را که به اسـاس مصـوبۀ شماره (۱۲) مـؤرخ ۱۳۹۵/٦/۱۰ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان بـه داخـل (۵) فصـل و(۲٦) مـاده تصویب گردیـده اسـت، توشـیح می دارم.

**مادۀ دوم:**

وزیر عدلیه و وزیر دولـت در امـور پارلمانی مؤظف اند، این فرمان را در خلال مدت (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملـی، بـه آن شورای تقدیم نمایند.

دریېمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او د نوموړي قانون له متن سره یوځای دې، په رسمي جریده کې خپور کړي.

محمد اشرف غني

دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس

مادۀ سوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبۀ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان و متن قانون مذکور در جریدۀ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د عامه او خصوصي مشارکت د قانون د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه

گڼه: (۱۲)
نېټه: ۱۰/ ٦/ ۱۳۹۵

د افغانستان د اساسي قـــانون د (۷۹) مادې د حکم له مخــې، د عامــه او خصوصي مشارکت د قانون طرحه، د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۰/ ٦/ ۱۳۹۵ نېټې په غونډه کې په (۵) فصلونو او (۲٦) مادو کې تصویب شوه.

پورته یاده شوې طرحه تر تقنیني فرمان لاندې نافذېږي.

محمد اشرف غني
دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح قانون مشارکت عامه و خصوصی

شماره: (۱۲)
تاریخ: ۱۳۹۵/٦/۱۰

به تأسی از حکم مـــادهٔ (۷۹) قـــانون اساســـی افغانســـتان، طـــرح قـــانون مشارکت عامه و خصوصی در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۵/٦/۱۰ کابینهٔ جمهوری اســـــلامی افغانســـــتان در (۵) فصـــــل و (۲٦) مــــاده، تصــــویب گردید.

طرح قانون فوق الذکر طـــی فرمـــان تقنینی نافذ می گردد.

محمد اشرف غنی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات

# قانون مشارکت عامه و خصوصی

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ اول: | مبنی | ۳۸ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۳۸ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۳۹ |
| مادۀ چهارم: | ساحۀ تطبیق | ۴۲ |
| مادۀ پنجم: | حمایت از مشارکت عامه و خصوصی | ۴۳ |


## فصل دوم

## مکلفیت های ادارات


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادۀ ششم: | ادارۀ مرکزی مشارکت عامه و خصوصی | ۴۳ |
| مادۀ هفتم: | وظایف و صلاحیت های ادارۀ مرکزی مشارکت | ۴۴ |
| مادۀ هشتم: | ایجاد واحد مشارکت عامه و خصوصی | ۴۷ |
| مادۀ نهم: | ایجاد کمیتۀ مشورتی پروژه | ۴۸ |
| مادۀ دهم: | شورای عالی اقتصادی | ۴۹ |
| مادۀ یازدهم: | کمیسیون تدارکات ملی | ۵۰ |

## فصل سوم

## اصول مشارکت عامه وخصوصی

مادهٔ دوازدهم: اصول مشارکت عامه و خصوصی.........................۵۱
مادهٔ سیزدهم: تأمین منافع عامه ..............................۵۲
مادهٔ چهاردهم: خطرات ناشی از مشارکت عامه و خصوصی............۵۲
مادهٔ پانزدهم: تضمین حقوق جانب خصوصی..........................۵۳

## فصل چهارم

## طرح و تطبیق مشارکت عامه و خصوصی

مادهٔ شانزدهم: عرصه های مشارکت عامه و خصوصی..................۵۳
مادهٔ هفدهم: روش های مشارکت عامه و خصوصی......................۵۴
مادهٔ هجدهم: روش های تدارک مشارکت عامه و خصوصی...........۵۵
مادهٔ نزدهم: پیشنهاد جانب خصوصی..................................۵۷
مادهٔ بیستم: مراحل پروژهٔ مشارکت عامه و خصوصی.................۵۸
مادهٔ بیست ویکم: وجوه حمایتی...........................................۵۹
مادهٔ بیست دوم: وجوه انکشافی پروژه..................................۵۹
مادهٔ بیست وسوم: نظارت و ارزیابی پروژه های مشارکت عامه و خصوصی.۶۱
مادهٔ بیست وچهارم: حل منازعات.........................................۶۱

## فصل پنجم

## احکام نهایی

مادهٔ بیست وپنجم: وضع مقرره ها و طرزالعمل ها..........................۶۲
مادهٔ بیست وششم: تاریخ انفاذ..............................................۶۲

# د عامه او خصوصي مشارکت قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د نهمې مادې د (۲) فقرې او لسمې مادې د حکمونو په رعایتولو سره، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د شفافیت، آزادې سیالۍ او اقتصادیتوب د اصل پر بناء په عامه او خصوصي مشارکت پورې د اړوندو چارو تنظیم.

۲- د عامه او خصوصي سکتور د ګډې پانګې اچونې د فرصتونو پېژندل.

۳- له عامه املاکو او شتمنیو او د

# قانون مشارکت عامه و خصوصی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون با رعایت احکام فقرۀ (۲) مادۀ نهم ومادۀ دهم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- تنظیم امورمربوط به مشارکت عامه و خصوصی بر مبنای اصل شفافیت، رقابت آزاد و اقتصادی بودن.

۲- شناسایی فرصت های سرمایه گذاری مشترک سکتور عامه و خصوصی.

۳- فراهم نمودن زمینه استفاده مؤثر از

خصوصي سکتور له ظرفیتونو، مهارتونو او تکنالوژۍ څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې د زمینې برابرول.

۴- د عامه او خصوصي مشارکت د پروژو د پرمخ بېولو لپاره د خصوصي پانګې اچونې هڅول.

۵- د بنسټیزو پروژو او د عامه خدمتونو د عرضې لپاره د تمویل د سرچینو تأمینول.

٦- د اقتصادي، ټولنیزو او د عامه ګټو د تأمین په برخو کې د چټکې ودې او پرمختیا د زمینې برابرول.

## اصطلاحګانې

**درېیمه ماده:**

